

# مشورې، ژبې ليدنې کتنې انتېګرېشن

افغانيک
Afghanic e.V.
1993-2023

د افغانستان او افغانانو لپاره ستاسو ملګرى





**Afghanic e.V.  اړيکې:**
Hölderlinstrasse 30, 53121 Bonn
Tel 0228-85031347
Mobil 0174 7417306
info@afghanic.de - www.afghanic.de


**بانک**
Sparkasse KölnBonn
IBAN DE59 3705 0198 1902 0838 96


د دغې مؤسسې په مرسته چاپ شوى دى
KOMM-AN NRW


## په هامبورګ کې د افغانستان اونۍ (HAW)


موږ د يو بل آلماني همکارۍ موسسې او آلمان دولت په لګښت د ۲۹ کلونو راهيسې په هامبورګ کې د افغانانو او آلمانانو لپاره د ۵ ورځو سيمنار جوړوو.
دلته نه يوازې د افغانستان په اوضاع، تاريخ او مرستو، همدا شان په آلمان کې د افغانانو په ژوند او ستونزو باندې هم د اړونده پوهانو او متخصصينو لخوا هر اړخيز معلومات وړاندې کېږي.
د سيمينار وخت، معلومات او نوملیکنه زموږ په وېبسايت کې خپرېږي.

## د ژبې کتابګوټي: آلماني د افغانانو لپاره

افغانيک آلمان ته نوي راغلو افغانانو لپاره د آلماني ژبې زده کولو دوه کتابګوټي په پښتو او دري ژبو خپاره کړي دي.
دا خپرونې په پی دي ايف فورمات کې زموږ له ويبسات څخه هم ترلاسه کولای شئ.

*www.afghanic.de/downloads*



## تاسو ته وړاندې کوو

- مشوره او لارښوونه
- ادغام (انتیګریشن)
- د مورنۍ ژبې درسونه
- د افغانانو لپاره المانی ژبه
- معلوماتي ماښامې
- د افغان مېرمنو کتنې
- په NRW کې شبکه جوړونه
- په هامبورګ کې د افغانستان اونۍ (HAW)

### مشورې

قدرمنو هېوادوالو!
موږ د لاندې موضوعاتو په اړه مشورې، لارښوونې او معلومات درکوو:

- د آلماني ژبې کورس
- مسلکي او لوړې زدهکړې
- کور او کار لټونه
- پناه غوښتنه او حقوقي مشورې
- روغتیایي او کورنیو ستونزو مشورې


موږ خوشاله یو چې ستاسو په ژبه تاسو ته په شخصي توګه مشوره درکړو، یا تاسو د اړوندو چارواکو او مناسب کس سره په اړیکه کې کړو.

### د افغانانو غونډه

افغانیک په میاشت کې یو ځل په بن او شاوخوا سیمو کې افغانانو ته غونډې جوړوي.
موږ له بن او په شاوخوا سیمو کې نوي افغان کډوال له هغو افغانانو سره یو ځای کوو، چې له څه مودې راهیسې دلته اوسېږي، تر څو یو بل سره وپېژني او نظرونه تبادله کړي.
آلمانان او د نورو ملیتونو او لېوالتیا لرونکي خلک هم ګډون کولای شي.
موخه دا ده چې نویو راغلي او نور افغانان له یو بل سره بلد شي.
غونډه د میاشتې په وروستۍ پنجشنبه له 17:30 څخه تر 20:00 پورې ترسره کېږي. اوسنۍ او راتلونکې نېټې زموږ په ویب پاڼه کې موندلی شئ:

### افغان مېرمنې یو له بل سره ګوري

د بن او شاوخوا سیمو څخه افغان مېرمنې د هرې میاشتې په وروستۍ چهارشنبې له 17:30 څخه تر 19:00 پورې یو له بل سره ګورې.
د دې غونډې موخه دا ده، تر څو افغان مېرمنو ته په یو خوندي چاپېریال او په زړه پورې فضا کې تجربې او نظرونه یو له بل سره تبادله کړي. د خوړو او څښاک بند و بست هم کېږي.
مخکې له راتګ څخه زموږ سره تماس ونیسئ!



### معلوماتي غونډې

د ځانګړو موضوعاتو اړوند ناستې هم د کال په اوږدو کې زموږ د فعالیتونو برخه ده. موضوعات او وختونه یې زموږ په ټولنیزو رسنیو او ویب پاڼه کې کتلای شئ.

### آلماني - یوځای زده کړه!

د افغانانو لپاره د آلماني ژبې، ګرامر، لغتونو او تلفظونو د تمرین سره وړاندې کوو.
موږ له تاسو سره د ژبې ازموینې (A1 څخه تر B2 پورې) د چمتو کولو لپاره په وړیا مرسته کوو.

**وخت:** هره چهارشنبه، له 15:30 څخه تر 17:30 پورې

### د مورنۍ-پلارنۍ ژبو درسونه (پښتو او دري)

د مورنۍ ژبو (پښتو او دري) کورسونه په لاندې ورځو کې دایرېږي:
دري: جمعه له *15:00* څخه تر *16:30* پورې
پښتو: جمعه له *16:30* څخه تر *18:00* پورې
اوس له موږ سره تاسو ژبې آنلاین هم زده کولای شئ.

